**په افغانستان کې د ملګرو**
**ملتونو** مرستندویه پلاوی

## مطبوعاتي اعلامیه

۷ جولای ۲۰۲۵
لا ډیرو معلوماتو لپاره دغه بریښنالیک ته ایمیل وکړئ: spokesperson-UNAMA@un.org

**د دوحې بهیر د کاري ډلې غونډې: د افغانانو لپاره د لازیات نړیوال تعامل او ملاتړ غوښتنه وکړه**

**کابل -** د افغانستان د خصوصي سکتور او د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې اړوند کاري ډلې غونډې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) لخوا د جون په ۳۰مه او د جولای په لومړۍ نیټه د قطر په دوحه کې ترسره شوې.

د دغو دوه ورځنیو غونډو په اوږدو کې هغه چارې روښانه شوې چې تر دې دمه د خصوصي سکتور او په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې د هڅو د ملاتړ په پار ترسره شوي دي، او همدارنګه د لازیات تعامل او ګامونو پورته کولو لپاره نور لومړیتوبونه په ګوته شول.

په دې غونډو کې د ۲۶ غړو هیوادونو او نړیوالو سازمانونو استازو، د افغانستان د واکمنو چارواکو استازو، د ملګرو ملتونو استازو او همدارنګه د لسو ځانګړو متخصصینو ګډون کړی وو.

افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سر منشي ځانګړې استازې او د یوناما مشرې، روزا اوتنبایوا وویل: " د خصوصي سکتور او د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې له هڅو څخه ملاتړ یوه ستراتیژیکه، اقتصادي او بشري اړتیا ده".

اغلې اوتنبایوا زیاته کړه: " د افغانانو لپاره د نړیوال تعامل او ملاتړ د زیاتولو دغوښتنې سربېره، دا یو مهم فرصت و چې د افغانستان د نړیوالو مکلفیتونو په اړه له واکمنو چارواکو سره خبرې وشي، او همدارنګه په افغان ټولنه او د هیواد په اقتصادي بیارغونه کې د ښځو او نجونو اړین رول روښانه شي."

له نشه یي توکو سره د مبارزې په اړه د کاري ډلې غونډې د کوکنارو د کروندګرو لپاره د بدیل کښت په اړه د عمل د یوه ګډ پلان پر پلي کولو، د مخدره توکو د مخنیوي لپاره د ګډ تعامل رامنځ ته کولو او له مخدره توکو څخه د اغیزمنو خلکو لپاره د درملنې د پلان پر جوړولو، د مخدره توکو د قاچاق او تولید د مخنیوي، د پولې د مدیریت او همدارنګه د قانون د پلي کولو پر مهمو مسلو بحث وکړ.

د خصوصي سکتور اړوند کاري ډلې د خصوصي سکتور له استازو سره پراخې مشورې وکړې تر څو د لازیاتو همکاریو لپاره روان نوښتونه روښانه کړي: لکه مالي سرچینو ته د لاسرسي وده، د نظارتي چوکاټونو پیاوړي کول، د ښځو په مشرۍ د سوداګریو د ملاتړ هڅول او په سکتورونو کې د دوی لازیات شمولیت. همدارنګه بحثونو د افغانستان د خصوصي سکتور لپاره پرعملي حل لارو تمرکز درلود کوم چې دندې رامینځته کوي، مهارتونه لوړوي او د افغانستان د اقتصادي پراختیا ملاتړ کوي.

دغه تخنیکي کاري ډلې، چې د تیر کال د جولای په میاشت کې د قطر په دوحې کې د ځانګړو استازو د دریمې غونډې د موارد‌و د تعقیب په موخه رامینځته او د ملګرو ملتونو امنیت شورا ته د وړاندې شویو خپلواکو ارزونو راپور (S/2023/856) د سپارښتنو سره سمې جوړې شوې، د افغانستان له واکمنو چارواکو سره د یو ډیر منظم او هر اړخیز تعامل یوه برخه ده، چې د افغان ولس د ګټې لپاره کار کوي.

***